مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری

٢٠٢٣/٠٩/٠٣

# مساپر

لمر د هسکو غرونو شا ته
په ورورو ها دی پټیږي
مازدیگرنسیم رالوتی
ډېرپه خوند پرمخ لګیږي
*****

د فلک سلطا ن شهید شو
د اسمان لمني سرې شوې
وریځو اور واخیست له غمه
شاوخوا خورې ورې شوې
*****

د غرمي تبجن ځیګر نه
ساه بهر شوه آتشینه
ماښام سوړاسویلی باسي
د خپل ګران بچي په مړینه
*****

پاس د هسک پرسینه بریښي
وارپه وار ځلانده ستوري
د سکوت نرمي سندري
غوږ ته رسي له هر لوري
*****

نوراني لمن د ورځي
شپه په تورڅاد ر کي نغاړي
دم په دم په غیږ کي نیسي
تیاره، سمي دي که ښاري
*****

موږ لا هسي پرمخ درومو
په تلوار اخلو ګامونه
شپه تیاره، هوا سره ده
خو زموږ مخ کي دي مزلونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ